PASHTO

TUSLA
An Ghníomhaireacht um Leanaí agus an Teaghlach
Child and Family Agency

د توسلا (TUSLA) لنځ لارښود:

# د هغو والدينو لپاره چې ايرلنځ ته نوي رارسېدلي



CYPSC
CHILDREN & YOUNG PEOPLE'S SERVICES COMMITTEES

# لړلیک


| | |
|---|---|
| مقدمه | 3 |
| په ایرلنډ کې د ماشومانو حقونه څه دي | 4 |
| د والدینو او سرپرستانو مسولیتونه | 4 |
| د ماشومانو ځار | 4 |
| د کورنۍ د ملاتړ خدمتونه | 5 |
| د ماشوم خوندیتوب او هوساینه | 6 |
| که د یوه ماشوم په اړه اندېښنه وینئ، نو څه باید وکړئ | 6 |
| د یوه ماشوم په اړه د اندېښنې راپور څنګه ورکړم؟ | 6 |
| په ایرلنډ کې د ماشومپالنې سیستم | 8 |
| په ایرلنډ کې د زده کړې سیستم | 9 |
| په ښوونځي کې نوملیکنه | 9 |
| نور معلومات چې ښایي ګټور وي | 10 |
| جنسي اړیکې ته د رضایت سن | 10 |
| په ایرلنډ کې خلک په څو کلنۍ کې واده کولی شي؟ | 10 |
| د کار لپاره قانوني سن | 10 |
| د جنسیتي هویت حق | 10 |
| الکول او قانون | 10 |
| د نړیوال خوندیتوب د ځای پر ځای کولو خدمتونه (IPAS) | 10 |
| کورنۍ تاوتریخوالی او جنسیتي تاوتریخوالی | 11 |
| د هغو سازمانونو لېست چې په ایرلنډ کې له نوو راغلو کسانو سره مرسته کوي | 12 |
| د اړیکو نیولو نور ګټور معلومات | 13 |

# مقدمه

## دغه لارښود د ماشوم او کورنۍ اداري (Tusla) لخوا جوړ شوی؛ ایرلنډ ته د نوو راغلو کورنۍ معلومات پکې دي او دغه بیاکتل شوې بڼه یې چې په (2023) کې چاپ شوې، د ماشومانو او ځوانانو خدمتونو کمېټو (CYPSC) د نوښت له لوري تمویل شوې.

په دغه سند کې ځینې عملي لارښوونې شته چې هیله لرو په ایرلنډ کې د اوسېدو پر وخت د ماشوم د ژوند د لومړیو کلونو پر ژوند پوه شئ، له ښوونځي مخکې ماشومپالنې او د ښوونځي سیستم څخه د ماشوم تر ځار او د کورنۍ د ملاتړ خدمتونو پورې. په دغه سند کې مو ځینې نورې برخې هم راوړې چې هیله ده ستاسو لپاره مرستندویې وي.



# په ایرلنډ کې د ماشومانو حقونه څه دي

**د ماشومانو په حقونو کې د روغتیا، زده کړې، کورني ژوند، لوبو او تفریح، د ژوند مناسب سټنډرډ او له هر ډول زیان او ناوړه استفادې د خوندیتوب حق شامليږي. د ماشومانو حقونه لومړني کلونه رانغاړي؛ له کله چې نړۍ ته راځي تر هغه چې په ایرلنډ کې په 18 کې بلوغ ته رسیږي - مګر دا چې قانوني واده یې کړی وي.**

## د والدینو او سرپرستانو مسولیتونه

په ایرلنډ کې والدین او سرپرستان د خپلو ماشومانو د پاملرنې او خوندیتوب لومړی مسولیت لري. په ځینو حالتونو کې، د ځینو دلایلو په سبب، ښایي والدین ونه شي کولی چې د خپلو ماشومانو پاملرنه او خوندیتوب وکړي او ځینې وخت ښايي لا جدي مرستې ته اړتیا وي چې ماشومان له زیان لیدو خوندي وساتل شي. په دغو حالتونو کې د ایرلنډ دولت ښایي په دې موخه دخالت وکړي چې په کورنۍ کې شته ورتیا پیاوړې کړي. بېلابېلې دولتي ادارې له کورنیو سره د ستونزو په لرې کولو او د ماشوم خوندي کیدو ډاډ ترلاسه کولو کې د مرستې وړاندیز کوي.

په ایرلنډ کې له دې پوهېدل اړین دي چې د ماشوم فزیکي وهیل یا څپېړه د هېڅ مشر کس له لوري جواز نه لري؛ هغه که په کور کې وي که په ښوونځي کې. په آیرلنډ کې د ماشومانو د جسمي مجازاتو ټول ډولونه د قانون خلاف دي. له دې سره د جرم په توګه چلند کېدی شي او ښایي د ایرلنډ پولیسو (An Garda Síochána) ته راجع شي.

## د ماشومانو څار

ډیری والدین یا سرپرست باید یو څه وخت د خپلو ماشومانو څخه لرې تیر کړي، که دا د اوږدې مودې لپاره وي کله چې کار ته ځي یا د ټولنیزو فعالیتونو لپاره لنډ وخت. ماشومان باید هېڅکله یوازې پرې نه ږدئ؛ نو والدین باید دا تنظیم کړي چې ماشوم ته یې یو باوري ملګری یا د ماشومپالنې کوم خدمت او یا پالونکی پاملرنه وکړي.

د دې لپاره کوم قانوني سن نشته چې ماشوم په کور کې یوازې پرېښودل شي؛ ځکه دا په دې پورې اړه لري چې ایا ماشوم په کافي اندازه بالغ دی که نه. په ایرلنډ کې تر 14 کالو ټیټ ماشومان کافي اندازه بالغ نه ګڼل کیږي چې یوازې یا له څار پرته پرېښودل شي. د تنکیو ځوانانو لپاره دا د والدینو یا سرپرست په پرېکړه پورې اړه لري چې ماشوم او د هغه د بلوغ کچې او اوسېدو شرایطو ته په کتو پرېکړه وکړي.

ماشومان په بېلابېل سن کې بلوغ ته رسیږي؛ خو لاندې یو تقریبي لارښود دی چې ماشومان کله یوازې پرېښودی شئ:

### ایا زه خپل ماشوم په کور کې یوازې پرېښودی شم؟
نه، ان د یو څو دقیقو لپاره هم نه.

### ایا زه خپل کوچنی ماشوم په کور کې یوازې پرېښودی شم؟
کوچني ماشومان باید هېڅ کله، ان د لنډ وخت لپاره هم یوازې پرې نه ښودل شي.

### ایا زه خپل لوی ماشومان په کور کې یوازې پرېښودی شم؟
سپارښتنه کېږي چې تر 14 کالو ټیټ ماشومان باید تر ډېر کم وخت ورته په کور کې یوازې پرې نه ښودل شي.

### ایا زه خپل تنکی ځوان په کور کې یوازې پرېښودی شم؟
تر 16 کالو پورته تنکی ځوان په کور کې یوازې پرېښودی شئ.

### د ماشوم پالونکې باید په کوم سن کې وي؟
که ارتیا لرئ چې د ماشوم پالونکې ولرئ؛ باید ډاډ ترلاسه کړئ چې سن یې تر 16 کالو لوړ دی او د دې د کتلو لپاره چې هغوی ستاسو له ماشوم سره د پرېښودو لپاره مسول دي که نه، باید د دوو مراجعو غوښتنه وکړئ.
(Globe All IPIP د معلوماتو پکېج، 2010)

که یو ماشوم یوازې او له ځار پرته پرېښودل شي، په ځانګړي ډول په ډلهایزو ځایونو کې، او دوی ته کومه اندېښنه وي؛ نو په دغو شرایطو کې د توسلا ټولنیز کارکوونکي ښایي د دغو اندېښنو د حل او کورنۍ د ملاتړ لپاره مداخله وکړي.

## د کورنۍ د ملاتړ خدمتونه
د کورنۍ ژوند تل اسانه نه وي، په ځانګړي توګه د لیږد او ناڅرګندتیا په سختو وختونو کې. د توسلا د کورنۍ ملاتړ خدمتونه مرسته کولی شي. په ساده ډول د یو چا درلودل چې ستاسو د ستونزې په اړه خبرې وکړي؛ کېدای شي له ستونزې سره د مقابلې تر ټولو اسانه لار وی. د لویانو، تنکیو ځوانانو، ماشومانو او پالونکو لپاره ډېری د ملاتړ ډلې شته چې خلکو ته فرصت ورکوي چې خپلې کیسې بیان کړي او یو د بل مرسته او ملاتړ وکړي. د کورنۍ د ملاتړ خدمتونه عموما کورنیو ته په خپلو کورونو او ټولنو کې چمتو کېږي.

ستاسو شرایط چې هر څنګه وي؛ توسلا یو لړ خدمتونه وړاندې کوي چې کورنیو ته مشوره او ملاتړ وړاندې کوي. په دې کې د کورنۍ د ملاتړ کارکوونکي، ټولنیز کارکوونکي، د ځوانانو کارکوونکي، د کورنۍ د سرچینو مرکزونه، د ملاتړ ډلې او د مشورې خدمتونه شاملېږي. دغو خدمتونو ته د کورنۍ د سرچینو محلي مرکزونو او د ماشوم او کورنۍ د ملاتړ شبکو له لارې لاسرسی کېدی شي. دا ډول خدمتونه له کورنیو سره مرسته کوي چې په ستونزمنو مسلو کې کار وکړي، ډاډ ترلاسه کړي چې ماشومان د ژوند کولو لپاره یو باثباته چاپیریال لري، او د هغو والدینو لپاره ملاتړ چمتو کوي چې دا کار ورته ستونزمن وي.

**د کورنۍ د سرچینو مرکزونه** د ډېرې ټولنو په مرکز کې وي او دا د معلوماتو، مشورې او ملاتړ تر ټولو غوره سرچینه ده. دا همداراز د کورنۍ پراخ ملاتړ او د ماشومپالنې (والدینوالي) پروګرامونه وړاندې کوي:
/https://www.familyresource.ie



## د کورنۍ د ملاتړ د اړیکو نیولو معلومات

| | |
|---|---|
| د ماشوم او کورنۍ د ملاتړ شبکې | https://www.tusla.ie/familysupport/ |
| د ماشومپالنې یا والدینوالي ملاتړ | https://www.tusla.ie/parenting-24-seven/ |
| د ټولنیز کار محلي ټیمونه | https://www.tusla.ie/get-in-touch/duty-social-work-teams/ |
| د ماشومانو او ځوانانو د خدمتونو کمېټې (CYPSC) | https://www.cypsc.ie/contact.36.html |
| د ایرلنډ د دولت د ماشومپالنې یا والدینوالي د ملاتړ وېپاڼه | https://www.gov.ie/en/publication/91ea0-support-and-advice/#local-supports-for-parents |

## د ماشوم خوندیتوب او هوساینه

د مشاوم خوندیتوب او هوساینه د ماشوم او کورنۍ اداره (Tusla) په ایرلنډ کې د مشاومانو د خوندیتوب (د ایرلنډ پولیس) هم د ایرلنډ د قانون له مخې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې مسولیت لري.

هر څوک په ایرلنډ کې د راپور ورکولو مسولیت لري که چیرې هغه ماشومان چې دوی ورسره اړیکه لري ممکن د ناوړه ګټه اخیستنې یا غفلت سره مخ وي.

### که د یوه ماشوم په اړه اندېښنه وينئ، نو څه باید وکړئ

په ایرلنډ کې دا د ټولو قانوني مکلفیت دی چې د ماشوم په اړه اندېښنو راپور ورکړي. که تاسو په دې اړه منطقي دلایل لرئ چې ښايي د ماشوم په اړه اندېښنه وي یا هغه د ځورونې یا غفلت له ګواښ سره مخ دی یا مخ کېږي؛ نو تل باید توسلا ته خبر ورکړل شي. په دې کې همدارز دا شاملېږي چې که تاسو په ډله ایزځای یا د اوسېدو مرکز کې څه وینئ.

که تاسو د یوه ماشوم د هوساینې او خوندیتوب په اړه اندېښنه لرئ، باید د توسلا د دندې پر مهال ټولنیز کار ټیمونو/د اړیکو نیولو ځانګړو ټکو ته له ځنډ پرته خبر ورکړئ:
https://www.tusla.ie/get-in-touch/duty-/social-work-teams

### د یوه ماشوم په اړه د اندېښنې راپور څنګه ورکړم؟

تاسو کولی شئ خپله اندېښنه په شخصي توګه، د تلیفون له لارې یا په لیکلي ډول په هغه سیمه کې د ټولنیز کار د دندې خدمت ته چې ماشوم ژوند کوي راپور ورکړئ. دلته د توسلا د ټولنیز کار ټیمونو د اړیکو نیولو جزیات موندلی شئ:
https://www.tusla.ie/children-first/contact-/a-social-worker3

**د ماشوم د خوندیتوب یا هوساینې په اندېښنو کې دا شاملېدی شي:**

- د یوه داسې ټپ یا چلند ثبوت چې د ځورونې په سبب دی او احتمال نه لري چې د کوم بل څه په سبب شوی وي
- د احتمالي جنسي ځورنې په اړه هر راز اندېښنه
- دوامداره نښې چې ماشوم د احساساتي یا فزیکي غفلت سره مخ دی
- یو ماشوم وايي یا د نورو وسیلو په واسطه اشاره کوي چې هغه یا هغې سره ناوړه چلند شوی
- د یوه لوی کس یا ماشوم لخوا د ادعا شوي ناوړه ګټه اخیستنې اعتراف یا اشاره چې دوی ترسره کړې
- د یوه کس لخوا ویل چې د ماشوم د ځورونې شاهد دی

له نارمل رسمي ساعتونو بهر د ماشومانو په اړه د اندېښنې یا پوښتنې راپور An Garda Síochána ته ژرترژره ورکول کېدی شي:
https://www.garda.ie/en/contact-us/station-directory



# په ایرلنډ کې د ماشومپالنې سیستم

## له ښوونځي وړاندې ماشومپالنه

په ایرلنډ کې عموماً تر 6 کالو ټیټ ماشومان د ماشومتوب د لومړیو پړاوونو یو ډول زده کړې ته لاسرسی لري. په دې برخه کې د کورنیو د مرستې لپاره دوه اصلي پروګرامونه دي:

1 د ماشومتوب د لومړیو پاملرنې او زده کړې پروګرام (ECCE)

2 د مشاومپالنې ملي پروګرام (NCS)

## ECCE - تر ښوونځي وړاندې وړیا پروګرام

د ECCE پروګرام تر ښوونځي وړاندې وړیا پروګرام دی چې د ابتدایه ښوونځي تر پیل دوه کاله وړاندې ټولو ماشومانو ته د لاسرسي وړ دی. دا په ورځ کې د دریو ساعتونو لپاره له سپټمبر څخه تر جون پورې وي.

ماشومان له سپټمبر وروسته د دې لپاره مناسب وي؛ کله چې دوی 2 کالو او 8 میاشتو ته ورسیږي. دغه پروګرام په 5 کاله او 6 میاشتې سن کې پای ته رسیږي. د ECCE پروګرام په اړه پوښتنې لپاره مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:
**eyqueries@dcya.ie**

## د ماشومپالنې ملي پروګرام

د ماشومپالنې ملي پروګرام (NCS) یو اضافي پروګرام دی چې ECCE پروګرام یې رانغاړي. دا د هغو ساعتونو ماشومپالنې لګښتونو لپاره چې له ښوونځي وړاندې دورې بهر شوي؛ اضافي مالي ملاتړ وړاندې کوي. دغه پروګرام ته درې ډوله ارجاع کیږي:

1 نړیواله، 2 د عاید ارزونې او 3 د سپانسر ارجاع ګانې

د 1. نړیوالې او 2. عاید ارزونې ارجاع ګانو په اړه معلوماتو لپاره:
اړیکه ونیسئ: www.ncs.gov.ie یا
**+353 8530 9061**

**د سپانسر ارجاع ګانې:** که تاسو ته لنډمهاله خوندیتوب درکړل شوی، د ملاشومپالنې ملي پروګرام (NCS) د NCS سپانسرۍ تنظیماتو له مخې د ماشومپالنې لپاره بشپړ لګښت پوښلی شي. د سپانسر دغه ارجاع باید د سپانسرۍ یوې اداري له لورې وشي چې توسلا یې یوه ده.

### د والدینو په توګه د توسلا سپانسرۍ ارجاع ماته څه معنی لري؟

هغه کس چې له تاسو سره له توسلا څخه کار کوي، تاسو ته به د دغه ډول ارجاع لپاره یو فورم ډک کړي. دغه فورم به د مشاومپالنې د هغو ساعتونو شمېر درته ووایي چې تاسو یې هره اونۍ کارولی شئ. په اونۍ کې د لاسرسي وړ اعظمي ساعتونه 45 دي. تاسو کولی شئ دا ساعتونه د ګډون کونکي، توسلا ثبت شوي ماشومپالنې خدمت سره وکاروئ. د ارجاع فورم به همدارز درته ووایي چې دا ارجاع به تر کومه دوام وکړي. په ټوله کې به د یوه کال لپاره وي.

### نور معلومات له کومه ځایه اخیستی شم؟

د NCS سپانسر ټیم سره په **+353 8535 9061** شمېره د 9am تر 5pm له دوشنبې تر جمعې اړیکه نیولی شئ؛ یا دا ایمیل **sponsors@ncs.gov.ie**

تاسو له Childcare Search Function څخه ګټه اخیستی شئ چې د NCS ماشومپالنې خدمتونو وړاندې کوونکو لېست دلته ولټوئ www.ncs.gov.ie

### د ښار/ښارګوټي د ماشومپالنې کمېټې

دا همداراز له کورنیو سره وړاندې زده کړې پاملرنې وړاندې کوونکو په برخه کې مرسته کوي. معلومات دلته موندلی شئ: www.myccc.ie د 4 او 18 کلونو ترمنځ ماشومانو سره به مرسته وشي چې عامه لومړني یا تر لومړني وروسته زده کړې ته لاسرسی ولري چې که مناسبه وه د دولت له لورې وړاندې کیږي.

# په ایرلنډ کې د زده کړې سیستم

## په ښوونځي کې نوملیکنه

په ایرلنډ کې ماشومان باید له 6 کلنۍ تر 16 کلنۍ ښوونځي ته لاړ شي.

د ښوونځي لومړنیو کلونوته 'ابتدایه ښوونځۍ' وایي. زده کړه وړیا ده او د قانون له مخې هر ماشوم باید حاضر شي. ماشوم باید د ښوونځي کال په پیل کې لږترلږه 4 کلن وي چې ښوونځۍ پیل کړي. په ایرلنډ کې والدین یا سرپرست باید ډاډ ترلاسه کړي چې ماشوم هره ورځ ښوونځي ته ځي. د ماشوم د غیر حاضرېدو په صورت کې والدین یا سرپرست باید ښوونځي ته ووایي او دلیل ورکړي. که مو ماشوم په ښوونځي کې د یوه تعلیمي کال شل یا تر دې ډېرې ورځې غیر حاضر و یا دا اندېښنه وه چې ستاسو ماشوم ښوونځي کې ډېره غیر حاضري کوي، ښوونځۍ باید د توسلا د زده کړې ملاتړ خدمتونو ته راپور ورکړئ. مهرباني وکړئ د ماشومانو لپاره د ښوونځ د حاضرۍ معلومات دلته پیدا کړئ:
https://www.tusla.ie/uploads/content/english_leaflet.pdf

په ایرلنډ کې د ښوونځي بل پړاو ته متوسطه یا تر ابتدایه وروسته ښوونځۍ وایي او دا د هغو زده کوونکو لپاره دی چې سن یې له 12 تر 18 کالو وي.تر 16 کالو ټیټو زده کوونکو ته حاضري ډېره مهمه ده. ډېری متوسطه ښوونځي فیس نه اخلي.

هغه ماشومان چې سن یې د 4 او 18 کلونو ترمنځ وي؛ ملاتړ یې کېږي چې دولتي ابتدایه یا متوسطه زده کړو ته لاسرسی ولري چې دولت یې وړاندې کوي. د دې لپاره چې ماشوم مو زده کړه پیل کړي، په سیمه کې شوونځي ته ورتلی شئ او دوی به د نوملیکنې په اړه معلومات درکړي.

د ښوونځیو یو لېست دلته موندلی شئ:
https://www.gov.ie/en/directory/category/495b8a-schools

سیمه ایزه زده کړه او د ژبې ټیمونه (REALTs) به د هغو کورنیو ملاتړ وکړي چې د نړیوال خوندیتوب په لټه کې دي او ماشومان یې باید په ښوونځي کې ثبت شي. هغه کورنۍ چې د ښوونځي ځای ته په تګ کې ستونزه لري، په خپله **سیمه کې له REALT** ټیم سره اړیکه نیولی شي:
https://www.gov.ie/en/publication/48639-information-for-schools-ukraine

توسلا د زده کړې د ملاتړ خدمت (TESS) کارکوونکي د REALT ټیمونو مهم غړي دي او دوی به همدارز له کورنیو سره که د ښوونځي په موندلو کې ستونزه لري، مرسته وکړي:
https://www.tusla.ie/tess/get-in-touch
یا **+353 1 7718636 / +353 1 7718586**



## نور معلومات چې ښايي ګټور وي

### جنسي اړيکې ته د رضايت سن

په ایرلنډ کې په قانوني ډول په 17 کلنۍ کې جنسي اړیکې ته رضایت ښودلی شئ. په دې کې مهمه نه ده چې جنسي تمایل مو څه دی یا له جنسي اړخه له کوم جنسیت یا جنسیتونو سره فعال یئ. More information on this can be found at: https://www.citizensinformation.ie/en/birth-family-relationships/children-s-rights-and-policy

### په ايرلنډ کې خلک په څو کلنۍ کې واده کولی شي؟

هغه سن چې په ایرلنډ کې خلک واده پکې کولی شي، 18 دی. که څوک تر 18کالو ټیټ وي، باید محکمې ته لاړ شي چې د واده د اجازې لپاره استثنا امر واخلي.

### د کار لپاره قانوني سن

په ایرلنډ کې له 14 تر 18 کالو ماشومان ځینې وخت په اوړي کې او له درسي ساعتونو بهر نیمه وخت دنده اخیستی شي. ځوانان چې کالج ته ځي هم ځینې وخت نیمه ورځ دنده اخیستی شي چې په زده کړه کې یې دخالت ونه کړي.

یو ځوان له 14 کلنۍ وروسته نیمه ورځ دنده کولی شي او بشپړه ورځ دنده بیا له 16 کلنۍ وروسته کولی شي. بیا هم دا چې دوی تر 18 کلنۍ ټیټ دی، د کار د وخت او ډول په اړه یې محدودیتونه شته.

تر 18 کلنۍ ټیټ سن کې د کار کولو په اړه نور معلومات په Citizens Information وېبپاڼه کې موندلی شئ: www.citizensinformation.ie

### د جنسيتي هويت حق

په ایرلنډ کې په هر سن کې خپل جنسیتي هویت ټاکلی شئ. د دې لپاره چې جنسیت مو قانوني وپېژندل شي، باید سن مو تر 18 کالو لوړ وی. نور معلومات په دغه وېبپاڼه کې موندلی شئ: https://www.citizensinformation.ie/en/birth-family-relationships/legal-recognition-of-preferred-gender

### الکول او قانون

تاسو باید 18کلن یا تر دې لوړ وئ چې په ایرلنډ کې الکول وپېرلی شئ. دا د قانون خلاف ده چې په ایرلنډ کې تر 18کلن ټیټ کس د الکولو کار وکړي، ویې پېرې یا پرې وپلورل شي. په ایرلنډ کې په ډېر عامه ځایونو کې د الکولو څښل جواز نه لري.

### د نړيوال خونديتوب د ځای پر ځای کولو خدمتونه (IPAS)

که دولتي اوسېدنځای غواړئ، له IPAS Helpdesk سره اړیکه ونیسئ چې مرسته درسره وکړي (24 ساعته د لاسرسي وړ ده):
**ipasinbox@equality.gov.ie**

### د عمومي معلوماتو لپاره:

- د ایرلنډ د کډوالو شورا: www.irishrefugeecouncil.ie
- د تابعیت معلومات: https://www.citizensinformation.ie/en/moving-country/asylum-seekers-and-refugees

## کورنی تاوتریخوالی او جنسیتي تاوتریخوالی

په ایرلنډ کې کورنی تاوتریخوالی د قانون خلاف او د نه منلو دی. دا مو که په کورنی کې پېښېږي، کولی شئ **An Garda Síochána** ته راپور ورکړئ. کورنی تاوتریخوالی په د لویانو په نیږدې اړیکه کې د جنسي تاوتریخوالي په ګډون د فزیکي زور، رواني زور یا د فزیکي زور ګواښ ته وایي.

په دې کې هغه تاوتریخوالی شاملېږي چې د ژوند شریک، زوی، لور یا بل کس له لوري کېږي چې له قرباني سره نیږدې اړیکه لري یا ورسره اوسېږي.

په ایرلنډ کې د کورني تاوتریخوالي قانون له مخې، د خوندیتوب او مخنیوي امرونو (چې تاسو یا ستاسو کور ته د کس د نیږدې کېدو مخه ونیسئ) ترلاسه کولو له لارې خوندیتوب شته. په دې اړه نور معلومات د ایرلنډ د قانوني مرستې له بورډ څخه ترلاسه کولی شئ:
www.legalaidboard.ie

## د مرستې کرښه او د ناورین خدمتونه

| | |
|---|---|
| 112/999 یا ستاسو په سیمه کې د پولیسو مرکز<br>https://www.garda.ie/en | Garda Síochána (د ایرلنډ پولیس)<br>- 24 ساعته |
| 1800 778888<br>https://www.drcc.ie/services/ | د جنسي تیري ناورین د مرستې ملي کرښه<br>- 24 ساعته |
| 1800 341900<br>https://www.womensaid.ie/ | د ښځو د مرستې کرښه<br>- 24 ساعته |
| 1800 816588<br>https://mensnetwork.ie/ | د نارینوو د ودې شبکه |
| 01 554 3811<br>https://www.mensaid.ie/ | په ایرلنډ کې د نارینوو مرسته |



# د هغو سازمانونو لېست چې په ايرلنډ کې له نوو راغلو کسانو سره مرسته کوي

| | |
|---|---|
| Clare د کډوالو د ملاتړ مرکز (CISC) | www.clareimmigrantsupportcentre.com |
| **Crosscare**<br>(د کډوالو د معلوماتو او وکالت خدمت) | www.crosscare.ie<br>www.livinginireland.ie<br>Email: refugeeservice@crosscare.ie |
| **Doras Luimní**<br>(د ټولو هغو کډوالو د حقونو ملاتړ کوي چې په Limerick او په ټوله کې منځني لوېديځ کې اوسېږي) | www.dorasluimni.org |
| **Focus Ireland**<br>(د هغو کورنيو، ځوانانو او ماشومانو مرسته کوي چې د بې کورۍ له خطر سره مخ دي يا ترې اغېزمن شوي) | www.focusireland.ie |
| د ايرلنډ د کډوالو شورا | www.immigrantcouncil.ie |
| په Kilkenny سيمه کې د کډوالو د ملاتړ کلينيک | www.frmcgrathcentre.ie/immigrant-support-clinic/ |
| **د کډوالو نړيوال سازمان (IOM)**<br>(په ايرلنډ کې د دغه سازمان څانګه) | https://ireland.iom.int/ |
| د ايرلنډ د کډوالو شورا | www.irishrefugeecouncil.ie |
| **د يسوعيونو د کډوالو خدمتونه (JRS)** (کډوالو ته ګڼ مخامخ خدمتونه وړاندې کوي) | www.jrs.ie |
| Mayo بين الفرهنګي اقدام | https://www.mayo.ie/en-ie/living-in-mayo/living-services/mayo-intercultural-action |
| **Nasc**<br>(دغه سازمان د بشري حقونو، ټولنيز عدالت او برابرۍ په برخه کې کار کوي) | www.nascireland.org |
| **د نوو ټولنو همکاري (NCP)** (دا د کډوالو په مشرۍ د 175 ډلو شبکه ده چې له 65 مليتونو جوړه شوې او په Dublin او Cork کې ده چې نور ښارونه هم لاسرسی ورته لرلی شي) | www.newcommunities.ie<br>Email: info@newcommunities.ie |

| | |
|---|---|
| **Ruhama**<br>(یو سازمان چې له هغو ښځو سره کار کوي چې له فحاشۍ او د جنسي استثمار له نورو بڼو اغېزمنې شوې) | www.ruhama.ie |
| **SPIRASI**<br>(له پناه غوښتونکو، کډوالو او د کډوالو له نورو محرومو ډلو سره کار کوي) | www.spirasi.ie |
| **Tralee د نړیوالې سرچینې مرکز (TIRC)** | www.tirc.ie |
| **UNHCR**<br>(د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره) | www.unhcr.org/en-ie |

## د اړیکو نیولو نور ګټور معلومات

| | |
|---|---|
| **An Garda Síochána (د ایرلنډ پولیس)**<br>(په ایرلنډ کې د ملي پولیسو خدمتونه) | https://www.garda.ie/en/contact-us/station-directory/ |
| **Barnardos**<br>(یو سازمان چې له مشاومانو او کورنیو سره کار کوي) | www.barnardos.ie |
| **د ماشومانو حقونو اتحاد**<br>(په ایرلنډ کې د ماشومانو د حقونو او قانون په اړه معلومات) | www.childrensrights.ie |
| **د ماشومانو او ځوانانو د خدمتونو کمېټې**<br>(ځوانانو ته معلومات او خدمتونه) | www.cypsc.ie |
| **د تابعیت معلومات**<br>(په ایرلنډ کې د حقونو او قوانینو په اړه معلومات) | www.citizensinformation.ie |
| **د ښار او ښارګوټي ماشومپالنې کمېټې**<br>(له ښوونځي وړاندې ماشومپالنې ځایونو په اړه برخه کې مرسته کوي) | www.myccc.ie |
| **Department of Children, Equality, Disability, Integration and Youth**<br>**(د ایرلنډ حکومت ډیپارټمنټ چې د ماشومانو مسؤلیت لري)** | www.gov.ie/dcediy<br>ټلیفون: 6473000 1 353+<br>برېښنالیک: contact@equality.gov.ie |
| **د ټولنیز خوندیتوب څانګه**<br>(د ایرلنډ دولت څانګه چې د لویانو او ماشومانو لپاره د ټولنیزې هوساینې د ټولو تادیاتو او امتیازاتو مسولیت لري) | www.gov.ie/en/organisation/department-of-social-protection |
| **د ایرلنډ د زده کړې او روزنې بورډ (ETBI)**<br>(د زده کړې او د ښوونځیو د ځایونو په اړه معلومات) | www.etbi.ie |

| | |
|---|---|
| د روغتیايي خدمتونو اجراییوي رئیس (HSE)<br>د لومړنۍ مرستې لپاره د ماشومانو د خوندیتوب چک لست | https://www.hse.ie/eng/health/child/childsafety/checklist-first-aid.pdf |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی<br>(HSE) د ماشومانو د ساتنې په ګډون د والدینو لپاره د ماشوم خوندیتوب چکلیسټ | https://www2.hse.ie/babies-children/child-safety/at-home/child-proof-your-home/ |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی (HSE) د معلولو ماشومانو د پالونکو ملاتړ – ګټې او امتیازات<br>(د ایرلنډ روغتیايي خدمتونه) | https://www2.hse.ie/services/disability-support-and-services/support-for-carers-of-children-with-a-disability/benefits-and-entitlements-for-carers-of-children-with-a-disability.html |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی (HSE) د ماشومانو د معلولیت خدمتونه<br>(د ایرلنډ روغتیايي خدمتونه) | https://www2.hse.ie/services/disability-support-and-services/childrens-disability-services/find-a-childrens-disability-service.html |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی (HSE) د معلولیت ملاتړ او خدمتونه<br>(د ایرلنډ روغتیايي خدمتونه) | https://www.hse.ie/eng/services/list/4/disability/ |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی (HSE) د مخدراتو او الکولو د مرستې کرښه<br>(د ایرلنډ روغتیايي خدمتونه) | وړیا ټیلیفون: 1800 459 459 |
| د روغتیايي خدمتونو اجرا کوونکی (HSE) د رواني روغتیا د ملاتړ خدمتونه<br>(د ایرلنډ روغتیايي خدمتونه) | https://www2.hse.ie/services/mental-health/services-search/<br>ټیلیفون: 1800 111 888 |
| د ایرلنډ حکومت او څانګې | www.gov.ie |
| ISPCC<br>(مستقیمًا ماشومانو او کورنیو ته یو لړ خدمتونه وړاندې کوي) | www.ispcc.ie |
| د حقوقي مرستې بورډ<br>(د خلکو لخوا تمویل کېدونکی خپلواک سازمان چې مدني حقوقي مرسته او مشوره وړاندې کوي) | www.legalaidboard.ie |
| د ماشومپالنې ملي پروګرام<br>(له ښوونځي وړاندې ماشومپالنې په اړه معلومات) | https://www.ncs.gov.ie/en/<br>+353 1 906 8530 – نړیوال/د عاید ارزونې غوښتنلیکونه<br>+353 1 906 8535 – د سپانسر ارجاعګانې |

| | |
|---|---|
| **د ماشومانو ملي شبکه**<br>(د ماشومتوب د لومړيو وختونو برخه کې ملاتړ وړاندې کوي) | https://ncn.ie/parents/ |
| **د والدينو ملي شورا**<br>(د ماشوم د ښوونې او روزنې په ټولو برخو کې د والدينو ملاتړ لپاره د مرستې کرښه او د روزنې خدمتونه) | www.npc.ie |
| **د والدينو کرښه**<br>(والدينو ته ملاتړ) | www.parentline.ie<br>ټليفون: +353 1 8733500 |
| **د سيمه‌ايزې زده کړې او ژبې ټيمونه (REALTs)**<br>(چې د ښوونځيو په ځايونو کې مرسته وکړي) | https://www.gov.ie/en/publication/48639-information-for-schools-ukraine/ |
| **Samaritans Ireland**<br>(په ايرلنډ کې يوه خيريه موسسه چې عاطفي او رواني ملاتړ وړاندې کوي د ورځې 24 ساعته، د کال 365 ورځې) | https://www.samaritans.org/ireland/samaritans-ireland/ |
| **د توسلا، د ماشومانو او کورنۍ اداري مرکزي دفتر**<br>(يوه دولتي اداره چې د ماشومانو او ځوانانو په برخه کې مسوليت لري) | د توسلا د ماشومانو او کورنۍ اداري مرکزي دفتر<br>The Brunel Building<br>Heuston South Quarter<br>Saint John's Road West<br>Dublin 8<br>D08 X01F<br>ټليفون: +353 1 771850<br>بريښناليک: info@tusla.ie<br>www.tusla.ie |
| **د توسلا د ماشومانو او کورنۍ اداري مرکزي دفتر**<br>د دندې پر حال ټولنيز کار ټيمونه/د اړيکو ځانګړې شوې ټکي | https://www.tusla.ie/get-in-touch/duty-social-work-teams/ |





www.tusla.ie